مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند
۲۰۲۴/۱۰/۱۸

**د استاد عبدالرحمن پژواک د کتاب (زوی د افغانستان) د مخکتنې په مناسبت:**

# د عبدالرحمن پژواک شلم تلین او یوه تعزیتي غونده



زمـا شـعـر کـې بـه نوی ژوندون نه وي
خـو پــه خـپـلـه ابدي نـوی مضمون یم

هـوشـیـاران مــې لــیونی بـولي پـژواکــه
د مستــانو خُــم خــانــه کــې افــلاطـون یم

**دا مقاله د ۲۰۱۵ ام کال د جون په ځلورمه نېټه، د استاد عبدالرحمن پژواک د شلمتلین د درناوي په پاره لیکل شوې او خپره شوېده؛ اوس یوځل بیا د استاد پژواک د یو کتاب (زوی د افغانستان) د مخکتنې د پروګرام په پار بیاځلي خپرېږي.**
آصف بهاند

دا دی د پژواک ویر شل کلن شو. د «کلمه داره رویې» خاوند شاعر، نامتو دیپلومات، زړور ژورنالست او متعهد لیکوال استاد عبدالرحمن پژواک د ۱۹۹۵ کال د جون پر اتمه د ۸۶ کلونو په عمر په پېښور کې وفات شو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ما ته د ماسکو د سختو ورځو هغه ورځ ښه په یاد ده چې یو ځل لطیف لالا (ډوکتور لطیف بهاند) او بیا ګران دوست زرین انځور احوال راکړ:

«په پښتنور کې استاد عبدالرحمن پژواک وفات شوی دی، غواړو چې د افغانستان د فرهنګ ټولنې له خوا د استاد له پاره یوه تعزیتي غونډه جوړه کړو او...»
استاد عبدالرحمن پژواک د افغانستان د ادبي، ژورنالستي، سیاسي او ملي شخصیتونو په سرلارو کې شمیرل کېږي. پژواک په ۱۹۱۹ م کال زیږیدلی. د حبیبیې لیسې له پای ته رسولو وروسته، د کابل طب پوهنځي ته شامل شو، خو له دوو کلو وروسته یې هغه نیمګړی پرېښود او ادبي هڅې یې پیل کړې؛ خو وروسته یې د سکاټلند د ادنبورګ په پوهنتون کې د نړیوالو اړیکو او عملي ژورنالیزم په څانګه کې خپلې لوړې زده کړې ترسره کړې. د ده ژوند کیدای شي پر دغو څلورو برخو وویشل شي:

**۱ ـ زده کړې،**

**۲ ـ په افغانستان کې ماموریت،**

**۳ ــ په بهراو ملګروملتونوکې ماموریت،**

**۴ ـ تقاعد او د مهاجرت دوره.**

په افغانستان کې له ځینو بریالیو ماموریتونو وروسته، په بهر کې د کلتوري آتشې په توګه وټاکل شو، بیا په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د سفیر او دایمي استازي په صفت دنده ور وسپارل شوه، په ۱۹۶۷ م کال د ملګروملتونو د عمومي اسامبلې ریاست ته انتخاب شو، وروسته له دې په بن او لندن کې د افغانستان د سفیر په توګه وګمارل شو.

کله چې استاد پژواک د ۱۳۷۴هجري شمسي کال د جوزا پر اتلسمه (۱۹۹۵ د جون اتمه) نیټه په پېښنورکې وفات شو، په همدې وخت کې ماسکو میشتو افغان فرهنګیانو «دافغانستان د فرهنګ ټولنه» په نامه د روسیې په ماسکو کې یوه فرهنګي ټولنه درلوده چې په ۱۹۹۴ کال کې د ګڼ شمیر افغان فرهنګیانو د هڅو په پای کې تاسیس شوې وه. دې ټولنې وټیله چې د استاد پژواک له پاره یوه تعزیتي غونډه جوړه کړي. د دې ټولنې د رهبري مشرتابه په یوه بېړنۍ غونډه کې وټیل شوه چې دا تعزیتي غونډه د استاد پژواک شخصیت ته د ښه درناوي په خاطر باید د یوه علمي سیمینار بڼه ولري. د مقالو لیکل او د پژواک په باب لومړنیو موادو او د استاد د شعرونو او آثارو د تر لاسه کولو له پاره وخت ته اړتیا وه، نو هماغه و د ۱۹۹۵ کال د جون شپږویشتمه نېټه ورته وټاکل شوه او غونډه په همدې ورځ جوړه شوه.

په دې تعزیتي غونډه کې ګڼ شمېر افغان فرهنګیانو او بهرنیو ختیځ پیژندونکو ګډون کړی و. ګډون والو د پژواک د خواږخیز شخصیت، آثارو او افکارو په باب مقالې، شعرونه او خاطرات بیان کړل.

غونډه د قرآن کریم د څو آیتونو په تلاوت پرانستل شوه. د غونډې مشري ښاغلي زرین انځور کوله. د پژواک غونډه د استاد پژواک په دې شعر پرانستل شوه:

د لیـلا نــه پــه یــو ټکــي ډیر ممنـون یـــم
چــې پــه ډاګــه راته وایي چې مجـنـون یـــم

د وصــال خـوبـونـه نـه وینم تــل ویش یـــم
کـــه د چـــا یـــم منت بـــاره، د بیلتـــون یـــم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ســـکندر د زمـــاني يـــم بــې هنـــداري
چې خاوند د خپل ګريوان او خپل ځنګون يم

دغـــه ســا چـې زمـا ويـنې زمـا نـه ده
ژوندی بل دی، زه يې سيوری د ژوندون يم

مـرګ مـنزل دی د سپيڅلي ژونــدون لاره
لالـهانـدـ ځـکـه پـه لاره د ژونـــدون يــم

زمــــا شـعـر کـې بـه نوی ژوندون نه وي
خـو پـه خپلـه ابدي نـوی مضمون يـم

هــوښيـاران مــې ليونـی بولي پــژواکه
د مـستـانـو خُـم خانـــه کـې افلاطون يم

د غونډې په لړ کې دغو کورنيو او بهرنيو ليکوالو او شخصيتونو د استاد پژواک د شخصيت پر بيلابيلو اړخونو خپلې مقالې او شعرونه واورول:

ـ مشهور ختيځ پيژندونکي، افغانستان پيژندونکي او مورخ پروفيسور ګنکوفسکي،

ـ د راديو افغانستان پخوانی رييس او تکړه ويناند نبي کوشا،

ـ افغانستان پيژندونکي او پښتو پيژندونکي ميرمن ګراسيموا،

ـ د کابل پوهنتون پخوانی استاد دوکتور لطيف بهاند،

ـ کيسه ليکوال او نقد ليکونکی زرين انځور،

ـ استاد امان اشکريز،

ـ په کابل کې د ژوندون مجلې پخوانی مسول مدير ګل افضل تکور.

د پژواک مرګ د افغانستان د فرهنګ خزان وهلي بڼ باندې يو بل کلک ګزار و چې يو ځل بيا يې غمجن فرهنګيان او پر وطن مين افغانان د وير پر ټغر کينول.

ګران دوست او پياوړي قلموال، زرين انځور د افغانستان د فرهنګ ټولنې د نشراتي ارګان (پرديس) په پنځلسمه پرله پسې ګڼه کې د استاد پژواک د مړينې په وير کې داسې ليکلي دي:

«د استاد پژواک د مرګ د غږ په اوريدوسره، د نړۍ په ګوټ ـ ګوټ کې خواره واره افغانان يوازې له دې امله غمګين نه شول چې يو لوی ديپلومات، شاعر او مبارز مړ شو، بلکي زياتره تآسف له دې امله هم و چې د وطن د تاريخ په داسې حساسو جوړونکو شېبو کې، د داسې خبيرو او ملي شخصيتونو مرګ لا زيات غمجنونکی ا و ژړونکی دی...
د استاد پژواک د شخصيت وړانګې ترهرڅه لومړی، د افغانستان د ژورناليزم او مطبوعاتو په پاڼو کې راوځليدې. دی له هغو کسانو څخه و چې د وطن د مطبوعاتو په تاريخ کې يې نوې انګازې او ولولې را پيدا کړې. د همدغسې خو تنو په هلوځلو زموږ ژورناليستيک او مطبوعاتي بهير، که په نړيواله کچه نه وي، د سيمې د مطبوعاتي لړۍ سيالی ته برابرشو...


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ

د استاد پژواک د شخصیت دویم اړخ، سیاست او دیپلوماسي ده. دی د وطن د آزادي غوښتونکو ملي شخصیتونو په کتار کې څرګند مقام لري...

استاد عبدالرحمن پژواک د افغانستان د ادبیاتو په تاریخ کې د ستاینې وړځای لري...»

پژواک له خلکو او وطن سره بې پایه او بېساري مینه درلوده، دا مینه د ده په دوو وروستیو آثارو (حدیث خون، میهن من) کې ښه ځلیدلې ده. د پژواک دا دوه کتابونه د ده د ورستیو شعري بیلګو او فکري بهیر ښه څرګندويي کوي.

زه (آصف بهاند) له پژواک سره لومړی استاد بینوا د «اوسني لیکوال» له کړکۍ نه آشنا کړم، بیا مې د پژواک هنر او له وطن سره مینه په «کلیمه داره روپۍ» کې وپیژندله. د مهاجرت په چاپیریال کې به چې کله ـ کله په ادبي بنډارونو کې دوستانو د پژواک سره د لیدنو خاطرات بیانول، ما ته به رخه را تله او زړه کې به مې ویل چې کاشکې خدای پر ما هم د دې ځو اړخیز شخصیت لیدل لوروللي وای خو...

ګران دوست زرین انځور په پېښور کې ډېر ځلې ور سره لیدلي و. د ده له خولې مې اوریدلي او په مقالو کې مې یې لوستي چې ویل به یې:

«... په پېښور کې به چې کله د افغانستان د کلتوري ټولنې له یارانو سره د پژواک لیدلو ته تللو، نو موږ ته به یې د خپلو آثارو نمونې اورولې او په «سپیدې» او «خپلواکي» کې به یې د نشر له پاره را کولې. د ده وروستۍ شعري نمونې د یو ژور درد او ویر لرونکي دي، د یو ستر وطني ویر او درد څرګندوی دي. راځۍ دغه یوه کوچنۍ نمونه یې ولولۍ:

چې په زړه مې د ژوندون نوی بار شي
لکه ګل تر او تازه د زړه پرهار شي

په یو دم د خاطراتو له نسیمه
ځان مې سوړ او بیا مې سور لکه انګار شي

کله کله داسې وخت پر سري راشي
چې جام مات کړي او بیسده د خمار شي

هغه زړه چې بې نیازه مستي غواړي
خدای دې نه کا چې ساقي ته امید وار شي

د امید ډیوه چې مړه شي هیله مه کړه
چې بَل بیا په سترګو اور د انتظار شي

داسې توره ترورمۍ ده په دې بڼ کې
چې د شپې مرغه په ورځ کې په کوکار شي

دا وطن د کومي پېغلي خور اوربل دی
چې باد نه وي لا وهلی تار و مار شي

ګنهکار یم خو ګناه مې آزادي ده
ځوک به دې خوږې ګناه نه توبه ګار شي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ